# البينة

**مدنی سورة دی ۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَمۡ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ
تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ١

**د اهل کتابو څخه جلاشوی کافران او مشرکان له خپل کفر نه راگرځیدونکی نه وو، تر هغه چې روښانه دلیل ورته راغی.**

رَسُولٞ مِّنَ ٱللَّهِ يَتۡلُواْ صُحُفٗا مُّطَهَّرَةٗ ٢

**( هغه روښانه دلیل) د الله تعالی رسول( محمد صلی الله علیه و سلم دی، چې ورته راغی ترڅو د پاک کتاب( مبارک قرآن) سورتونه ورته ولولی.**

فِيهَا كُتُبٞ قَيِّمَةٞ ٣

**هغه کتاب چې ډیر مستحکم او ارزښتناک احکام پکې شامل دی.**

وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ٤

**اهل کتاب هغه وخت( د دین په باب) بې اتفاق( او په ډلو ډلگیو وویشل) شول چې روښانه دلایل ورته راغلل( او حجت ورباندې کاملاً تمام شو).**

وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ٥

دوی ته صرف دا امر شوی چې د الله تعالی مخلصانه او پاک عبادت وکړی، او حق پلوه واوسی، لمونځونه وکړی، زکاتونه ورکړی او همدا غوره او ثابت دین دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ
فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ٦

له اهل کتابو( یهودو او عیسویانو) څخه چې څوک کافران او مشرکان شی( او په محمد صلی الله علیه وسلم او مبارک قرآن ایمان را نه وړی) تل تر تله به په دوزخ کې پراته وی، او همدوی دی تر ټولو بد مخلوقات .

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ٧

او څوک چې ایمان راوړی او نیک عملونه کوی، تر ټولو ښه مخلوقات ګڼل کیږی.

جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ
أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ٨

اجر او بدله یې د دوی د رب له خوا هغه تلپاتې جنتونه دی چې د( ونو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) رودونه روان دی، او دوی به پکې تل تر تله هستوګن وی. الله تعالی له دوی خوښ دی او هغوی هم له الله تعالی نه خوښ دی، دا (لوی اجر) د هغه چا لپاره دی چې له خپل رب نه وویریږی( او له ګناهونو او ناوړو اعمالو نه ځانونه لیرې ساتی).

« تمت سورة البينة بفضل الله و رحمته»

===================